# لنډۍ د لرغوني پښتو ادب او ولسي پوهې بډایه پانګه، او ملي شتمني:

لنډۍ زموږ په لرغوني هیواد کې د پښتو درنې ژبې، او د ویاړلي پښتني وګړني ادب او فلکلور په ښېرازه ګلبڼ کې یوه غوره، مهمه، بې سارې بډایه زېرمه او پانګه، تلپاتې، غوریدلې او راټوکیدونکې څانګه، معنوي او ملي شتمني، سپینې، رښې او سپیڅلې خبرې، اصیلې ، قیمتي او ګرانې مرغلرې او د ولس د زړه، لهاحساس، درد او سوزه هغه ډک آواز او پیغام دی، چې د پراخوالي، ځومره والي، ځرنګوالي او منځپانګې له پلوه لکه د یو لوی، پراخ، ژور او ځپاند سمندر په شان د پښتنو د عیني ، حقیقي، ریښتیني او ټولنیز ژوند او چاپیریال ټول او بیلابیل اړخونه په خپله لمن کې رانغاړي .

لنډۍ په پښتو شاعرۍ کې هغه پخوانی، ټولمنلی، او ځواکمن شعري فورم دی ، چې ځانګړی جوړښت لري او د شکل له مخې هره لنډۍ له دوو برخو څخه جوړه ده. لومړۍ مسره یې (نهه) څپیزه او دویمه یې (دیارلس ) څپیزه لري.لنډۍ که څه هم کوم ځانګړی او معلوم ویناوال (شاعر) نه لري او په عادي

ښه په پښتني ولس کې د وخت د غوښتنو سره سمې مینځ ته راغلي او خوله په خوله او سینه په سینه له یو نسل څخه بل نسل ته د قیمتي غمیو او ارزښتناک امانت په څېر رالیږدول شوې دي خو بیا هم نژدې ټولې لنډۍ د جوړښت له مخې سره یو شان او سیلابونه یې سره برابر دي.

په لنډیو کې د ټولنیز او پښتني ژوند بیلابیلې برخې، لرغوني دودونه او ارزښتونه لکه: وطن پالنه ، د هیواد او هیواد والو سره تانده او ژوره مینه، پښتونولي، د اتلانو ، میړنیو او زمریو ځوانانو میړانه، زړه ورتیا ، سرښندنه، رزمي، بزمي، حماسي او عاطفي انځورونه، د پردیسي ، کډوالي او جلا وطني ژوند ستونزې ، کړاوونه او دردونه، د سولې او روغې جوړې موضوعات، خوږه او عاطفي ژبه، د ګودر پر غاړه د ښایستو پیغلو ، مستو زلمیانو او تنکي ځوانانو تر منځ دیدنونه، د مینې، محبت او وفا راز او نیاز ، د ځوانې جذبې د مینې وړانګې، نغمې او ولولې، سوز و ګداز، د ښایست انګازې او عشقي موضوعات، د شمعې او پتنګ تر منځ اړیکې، د بیلتون ، هجران او وصال حالات ، ماهرانه او هنرمندانه تشبیهات او کنایات ، ښکلا ییز ، ژبني او ادبي ارزښتونه ، ښکلي کلمات او

هنري ذوق، د شین اسمان د ستورو ځلا او رڼا ، د ښکلې ، زړه وړونکې او سپینې ځلیدلې سپوږمۍ ننداره، د لمر رڼا او د ګرمې، ګرمې ، نرمې، نرمې ، زرینې او سرې وړانګې غوړیدل، د طبیعت ښایسته چاپېریال، د طبیعي ښکلاګانې انځورونه او د رنګارنګو ښکلو او غوړیدلو ګلونو ځانګړې ځای او ستاینه، د ټولنیز عدالت، د ټولنې په کرغیړنو او ناوړو دودونو نیوکه، د قلم، علم او فضیلت، اخلاق او ادب معنوي ارزښتونه او همداسې نور مهم مضامین او مفاهیم انځور شوې دي.

له نېکه مرغه د لنډیو په تړاو بیلابیلو استادانو ، د هیواد د ادب او فرهنګ درنو مینه والو ، زیار ایستونکو لیکوالو یو شمېر لنډۍ له کلیو او بانډو څخه را ټولې کړي او د کتابونو په بڼه یې چاپ او خپرې کړې دي ، چې د دغو نامتو استادانو او لیکوالو نومونه د پام او یاد وړ دي. لکه: اروانښاد علامه حبیبي،استاد اروانښاد عبدالرووف بېنوا ، اکادیمسین استاد مجاور احمد زیار، استاد اروانښاد محمددین ژواک، استاد حبیب الله رفیع ، اروانښاد محمد ګل نوري ، اروانښاد مصطفی جهاد ، ښاغلی عبدالکریم پتنګ، مېرمن سلما شاهین او ځنې نورو ...

خو اروا ښاد اکاډیمسین سلیمان لایق چې زموږ د ادب او فرهنګ په ډګر کې د پښتو او دري ژبو پېژندل شوی ، پیاوړی ، نوښتګر او مخکښ شاعر او لیکوال دی، له ډېرو کلونو راهیسې پر پښتو لنډیو کار کړیدی او د لنډیو د راټولولو تر څنګ د لنډیو پر علمي څیړنو، تحلیل او پېژندنې هر اړخیزې لیکنې کړې دي چې د دغې سلسلې ځنې لیکنې یې پخوا خپرې شوې هم دي.

ده په خپله یوه لیکنه کې د لنډیو په اړه داسې کښلي دي:

(... نخست از نظر فورم لندی شعر فلکلوریست و شعر فلکلوری آن ساحه پهناور از احساس و شیفتگی بی پایان است که توسط صد ها هزار انسان پایه گذاری شده است، از نخستین بوسه ها، عشق ها، خنده ها و شادی ها و از آغازین سرشکها، اندوه ها و درد ها.

(لندی ) تک بیت های شفاهی پشتو است که در قالب آوازها و آهنگهای گوناگون از باستان تا زمان ما رسیده است، و پشتون ها بدان لنډۍ، ټیکی، مسری، تپه، آواز، بدله، سندره وغیره نام داده اند.... )

او همداسې... ښاغلی صدیق کاوون توفاني ، چې زموږ د ادب او فرهنګ هڅاند ، وتلی او نوښتګر شاعر، پیژندل شوی لیکوال، او ادیب دی ، په خپله یوه لیکنه کې د لنډیو په اړه داسې وایي:

((....د لنډیو تر ټولو مهمه ځانګړنه د هغو شکلي لنډوالی او د منځپانګې بډاینه او پراخوالی دی ، داسې چې د یوې لنډۍ په همدغه دوه مسریو کې یوه دونیا مانا او مفهوم ځاییږي آن تر دې چې سړی نشي کولای د یوه اوږده شعر په لمنه کې هم هغومره لوی مفهوم راونغاړي.

البته د یادولو وړ ده ، چې په پنجابي ژبه کې د « ماهیا » په نوم او په جاپاني ژبه کې د « هایکو » په نامه لنډیو ته ورته لنډه کي شعرونه شته چې خپله ښکلا لري خو له لنډیو سره د ډېرو ښکلي او ماهوي تفاوتونو لرونکي دي... ))

د لیکوالو د څیړنو پر استناد د لنډیو ویونکي په درې برخو وېشل کېږي:

- ښځینه لنډۍ،

- نارینه لنډۍ،

-د ښځو او نارینوو ترمنځ ګډې لنډۍ،

د لنډیو په تړاو څېړونکي وايي: زیاتره لنډۍ د ښځو او پیغلو له خوا ویل شوې دي، چې ښځو په پښتني ټولنه کې د ټولنیز عدالت او انساني ژوند د نیمګړتیاوو، دردونو، کړاوونو، ناخوالو، ستونزو او بد مرغیو په اړه خپل غږ او آواز اوچت ساتلی دی. او همداسې په ښځینه لنډیو کې د پښتنې میرمنې پیغام او د رښتینې مینې اعتراض، احساس، ارمان رازو نیاز، درد او سوز په ډېر ښکلي او ظریفانه بڼه انځور شوې دي.

د تاریخ په اوږدو کې د لنډیو په پراخه د ښته، سمسور او شین بڼ کې د لنډیو ویونکو په خوږه او پسته ژبه د انساني، ټولنیز او پښتني ژوند ټول اړخونه په ډېر ښکلي، او هنرمندانه بڼه بیان کړي دي.

لنډۍ د پښتو ژبې او د پښتنو د کلیوالي، ټولنیز او عیني ژوند د عاطفي رنګ اوخوند او د احساس او جذبې رڼه هینداره او د پښتني ژوند هغه بهانده چینه ده، چې تر څو پښتون، پښتني ژوند او پښتو ژبه ژوندی وي دا چینه به نه وچیږي او لنډۍ به ژوندی وي او د اوریدونکو او لوستونکو د زړونو د هنري مینې

تنده به داسې خرګندوي چې بل هيڅ ادبي او هنري ژانر به په داسې يو لنډ او مانا داره فورم کې د لنډيو ځای ډک نه کړي.

لنډه دا چې په لنډيو کې بيلابيل مضامين لکه : حماسي، رزمي، ټولنيز ، تاريخي، روزنيز، اخلاقي او معنوي، اصلاحي او انتقادي، عشقي او همداسې نور... په ډيره پسته ، خوږه او عاطفي ژبه، په هنري، شاعرانه او اديبانه بڼه انځور شوې دي.

د دې خبرې يادول اړين ګڼم، د ساينس او تکنالوژی د پراختيا ، ودې او پر مختګ سره سم له نيکه مرغه لنډۍ چې مخکې د کليو او بانډو ، د دنګو دنګو غرونو په شنو او مستو لمنو کې او د لويو او پراښو دښتو د رنګارنګو غوړيدونکو ښايسته ګلونو د نندارو په بنډارو کې ، په ګودرونو کې، د نښترو او چنارونو د دنګې دنګې او شنې ونې ترلاندې، په شنو، زرغونو او سمسورو باغونو کې ، په شنو درو، پولو او پټيو کې ، د چينو، مستو او ځپاندو سيندونو او ځړوبي (ابشارونو ) د رڼو اوبو د مناظرو ترڅنګ، د کوچيانو د کږدی اړخ ته، د شپون په شپيليو کې، د ښوالو په شنو دروکې او همداسې د پښتنو په کليوالو سيمو کې ، په ښځينوو بنډارو کې، د نارينوو په حجرو

او د ټنګ ټکور په بزمو او مجلسو کې په شفاهي ډول د پښتنو په منځ کې خوله په خوله او سینه په سینه یو بل ته لېږدول کېدلې خو اوسمهال له خولو او سینو نه قلمونو ، کتابونو ، ښوونځیو ، پوهنځیو ته ، ښاري ژوند ته ، مطبوعاتو او ټولنیزو شبکو ، راډیو او تلویزونونو ، کمپیوترونو ، سایتونو ، فیسبوکونو او تویټرونو ته لاره پرانیستې ده.

لنډۍ په پښتو ژبه کې یوه لنډه سندره ده، چې پر انساني احساساتو او عواطفو ډیر ژور او د پام وړ اغیزلري او په خپله لمن کې یې د ورځني او ټولنیز ژوند مهمې او بیلابیلې پدیدې، پېښې او حوادث ، په زړه پورې ټولنیز او اخلاقي اهداف او موضوعات، مفاهیم او مضامین په ډیر ښکلي او هنري بڼه انځور کړې دي. همدا وجه ده چې د هرې ورځې په تیریدو سره د لنډیو ښکلاییز ذوق، تخلیقي ځواک، ژبني ، ادبي او هنري ارزښتونه، معنوي لوړتیا او ادبي پانګه درنه او بډایه کېږي ، او د راتلونکو نسلونو معنوي ،ادبي او روحي تنده په اغېزمنه توګه خړوبوي.

د ادب او فرهنګ ګرانو مینه والو، شاعر وایي:

ستا د ښایست ګلونه ډېر دي+++ لمن مې تنګه زه به کوم کوم ټولومه.

د پورتنیو خبرو پر لاسوند ما یو شمیر رنګارنګ لنډۍ انتخاب کړې دي ستاسو د ادب درنو مینه والو ته یې ډالۍ کوم. هیله من یم چې په لوستلو او لیدلو یې ستاسو ادبي او هنري تنده پرې خړوبه شي.

وطن زما زه د وطن یم

ما د وطن په ننګ همیش کړي جنګونه

***

وطنه ستا په مینه مست یم

که ستا په مینه مې سرځي لوبې پرې کړمه

***

ځوانانو پاځئ توره واخلئ

په وطن جنګ دی غلیمان راغلې دینه

***

که په میوند کې شهید نه شوئ

خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه

***

توري به نکړو نو به څه کړو

چې مو شیدې د پښتنې رودلي دینه

***

چې د پښتون د تورې شرنګ شي

د جنګ میدان کې غلیم لاره ورکه وینه

***

د لــویو غـــرو سیل مې وکړ

اوس مي یــادیږي د شینکي وطن باغونه

***

جنګونه څومره زورور دي

چې زړه له زړه او یار له یاره بیلوینه

***

کور دې سپیرهٔ شه ټوپکیه

چې دې سپیرهٔ کړل د کابل شینکي باغونه

***

پر کابل ږیرې راغلې خدایه

بیا به تالا کړي تورپیکي هسک اورمیــړونه

***

د ږیرورو لښکر راغی

تیارې خورې شوې، رڼا اوښکې تویوینه

***

ځوانانو لوست ته ځان چمتو کړئ

تیاره خوریږي ټوپکیان راغلي دینه

***

راځئ چې نوره جګړه بس کړو

د جګړې اور ښکلي ځوانان تباه کوینه

***

غم خو دې نه وي، جنګ دې نه وي

څومره جنګونه، څومره وګالو غمونه

***

ټوپک سینګار د ځوانۍ نه دی

اوس له زلمو سره قلم مزه کوینه

***

ځوانانو وخت د جګړې نه دی

وخت دی د سولې چې وطن آباده شینه

***

ځوانانو خپل وطن آباد کړئ

د هیواد پیغلې به سلام درته کوینه

***

وطنه ستا نه قربانېږم

اوسه لمن کې دې تازه شکلې ګلونه

***

څانګه به نن سبا کې ګل شي

ما یې په سر کې سرې غوټۍ لیدلې دینه

***

اسمان په ستورو ښایسته ښکاري
لکه لیلا چې په مخ ووهي خالونه

***

بارانه ورو، ورو پرې وربږه
ورې، ورې جنکۍ غره ته تللي دینه

***

خلک به وایي چې وره ده
ورې زما په زړه چړې منډلي دینه

***

په غټو سترګو دې مئین شوم
ځکه مې غټې غټې اوښکې په مخ ځینه

***

بانه اغزي شونډې دې پاڼې اشنا

لړ په ورو ورو يې خوځوه زخمي دې کړمه

***

چې ماز د يګر شي زړه مې ښه شي
په ګودر جوړ شي د منګيو کتارونه

***

ته د ګودر غاړې ته راشه
ما په منګي کې پراتې راوړې دينه

***

مخ يې د شنو خالونو ډک دی
لکه سپوږمۍ کې چې ښايسته ښکاري داغونه

***

د محبت په رنځ رنځور يم
شېريني راکړه د سرکو شونډو سرونه

***

خوله مې غوښته ژبه يې راکړه

خدايه سخي نجلۍ ته وركړې جنتونه

***

خدايه دا مور يې لېونۍ کړې

مئين پرې زه يم اوس يې بل ته وركوينه

***

د خوشالۍ ياران مې ډير وه

چې ښادي ولاړه، ټولو پورته کړل لاسونه

***

مينه د مينې پيدا کيږي

په مينه مينه دې کتل ميئن دې کړمه

***

مينه په تلو راتلو زياتيږي

کله راځه کله به زه درځم مئينه

***

باده پر باد مې سلام وايه

پر هغه باد چې د اشنا پر لوري ځينه

***

ياران به ټول سره راټول وي
زه په پردي وطن کې اوښکې تويومه

***

په غم پيدا په غم کې لوی شوم
په غم مئين په غم به خاورو ته ورځمه

***

پــــه دنيـــا مـــه نازېږئ خلکو
دنيـــا فـــاني ده په ارمان به ځنې ځو نه

***

پــــه اصل څـوک نه سړی کيږي
سړی هغه دی چي يې خوی د سړي وينه

***

د سر دښمن مې هوښيار ښه دئ

زه د بې عقل پــه دوستي ستومانه يمه

***

بلبلان ټول په ژړا ژاړي

بورا په توره خولګۍ وخوړل ګلونه

***

ټوپک ويشتلی به خدای جوړ کړي

په زړه ويشتلی به کړيږي مړ به سينه

***

بېلتون يوائې په ما ندی

بېلتون شمال دی هره پاڼه رپوينه

***

جدايي راغله لارې دوه شوې

مرګ مې قبول دی جدا يي نه قبلومه

***

تن مې د شنو نکريزو پاڼه

په ظاهر شنه د ننه رنګ په وینو یمه

***

جانانه فکر پکې وکړه

مینه سور اور دی وارخطا نشې مئینه

***

بابا کوچیانو ته مې ورکړه

چې تور پېکی مې د نښترو باد وهینه

***

پاس د آسمان ستورو ته ګوره

په تا مې دومره دي د سپینې خولې پورونه

***

خمارو سترګو دې زخمي کړم

د خدای د پاره ما ته مه ګوره مئینه

***

که مې ته روغ لېونی نه کړې

نور مې د بنګو پیاله مه بوله میئنه

***

پاس په اسمان کې ستوري ښکاري

اشنا ویدهٔ دی ما یې وکړل دیدنونه

***

فیسبوک دې خلاص که ځوانیمرګ شې

دا څلور ورځې انتظار ولاړه یمه

***

ملا ! آذان ته بېړه مه کړه

زه د آشنا په غېږ کې اوس ورولوېدمه

***

سپوږمیه سر وهه راخېژه

زما لالی د تورو غرو مزل کوینه

***

چې لمر ډوبیږي تیاره کیږي

زه چې تا نه وينم تياره راباندي وينه

***

اصيل ګلاپ راڅخه ورک دي

کم اصل ګل که بويوم ډک دي باغونه

***

ګلاپه دا قدر دې بس دی

چې جينکۍ دې په اوربل کې ګرزوينه

***

مخ دې ګلاپ سترګې دې شمعه

زه نه پوهيږم چې پتنګ که بورا شمه

***

دا بند په بند به شم در ما ته

په بند ماتيږي د لاچي او لونګ ونه

***

جينکو نوی دود جاري کړ

دکشمالو باغچې په بام کې جوړوینه

***

یا د لاله په ګل شبنم دی

یا دې د مخ په ستارو خولې راځینه

***

صورت یې سپین کمیس یې شین دی

لکه نرګس چې شین یې نار سپین یې ګلونه

***

مخ دې ګلاپ سترګې نرګس دي

دا تورو زلفو دې سنبل وشرماونه

***

وړه نجلې چې شونډې سرې کا

لکه د ډاک ریدي چې وسپړي ګلونه

***

په ډیر درنښت او مینه : لیکوال-انجنیر عبدالقادر مسعود